ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم په څېر بل څنور انسان نه دی لیدلی چې په سره جوړه کې د الله جل جلاله له رسول څخه ښایسته وي

له البراء رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم په څېر بل څنور انسان نه دی لیدلی چې په سره جوړه کې د الله جل جلاله له رسول څخه ښایسته وي وښتان یې په اوږو لګېدل، د دواړو اوږو ترمنځ واټن یې پراخ و، نه ډېر دنګ او نه ډېر ټیټ و.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

البراء بن عازب رضی الله عنه وایي چې هېڅکله یې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په څېر څوک نه دی لیدلی چې د سرو لیکو په ازار او څادر کې د هغه په څېر ښایسته وي، د هغه له پېدایشي صفتونو څخه یو دا و چې د اوږو تر منځه واټن یې پراخ و، سینه یې هم پراخه وه او منځمهالې ونه یې درلوده چې؛ نه اوږد و او نه لنډ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2990